
رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

# د بِلالِ حَبَشي 8 حکایتونه

**26-AUGUST-2021**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د بِلالِ حَبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ 8 حکايتونه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدلو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تردې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِيَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د نبيء اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغې د ويرې او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه کس وي چا چې په تاسو کښې په ما باندې په دُنيا کښې کثرت سره دُرُود شريف لوستلي وي.[1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں | اور ذکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے (2)

[1]... مسند الفردوس، جلد: 5، صفحه: 277، حديث: 8175۔

[2]... وسائل بخشش، صفحه: 114۔

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.(1)

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو:

نِيَّت اوکړئ چې، نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. چې څومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې] کښينم که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هم اوکړئ.

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿1﴾ د يو غلام د اسلام قبلولو ايمان افروز حکايت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دِينِ اسلام په وړومبي دور کښې، چې کله زمونږ خوږ نبــي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نَبُوَّت اعلان اوفرمائيلو، هغه دَور د سخت ازميښت دَور وو، په مُومِنانو باندې ظلمونه کيدل، مسلمانانو ته سخت تکليفونه ورکول کيدل، د

---

1...جامع صغیر، صفحہ:81، حدیث:1284.

مکّے کافران د اسلام خلاف راپاخيدلي وو، په دغه دور کښې يو وخت داسې هم راغے چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل يارِ غار حضرت ابُوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره يو غار ته تشريف يوړلو.

د هغه ورځو خبره ده، د **الله** حبيب، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غار کښې تشريف فرما وو، يوه ورځ د مکّے مکرمې د يو غټ کافر عبدُ الله بِن جُدعان يو غلام چيلئ څرولې او د هغه غار طرف ته راغلو. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې اوليدلو نو آواز ئې ورته اوکړو: يَا رَاعِی هَلْ مِنْ لَبَنٍ اے شپونکيه آيا ستا سره څه شَوده [يعني پئ] شته دے؟ غُلام عرض اوکړو: آو جي! يوه بيزه ده په هغې کښې زما خوراك دے (يعني زه غلام يم، ټولې چيلئ زما د مالِك دي، په هغې کښې د يوے بيزې شوده زما د پاره مقرر دي) که تاسو غواړئ نو د خپلې حِصَّے شوده ستاسو د پاره ايثار کولے شم.

مالكِ دوجهان، سرورِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بيزه راوله! غلام بيزه حاضره کړه، خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پياله را واخسته او په خپلو مبارکو لاسو ئې د بيزې نه شوده واخستل، پياله ډکه شوه، خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله شوده اوڅښل، بيا ئې ترينه شوده واخستل، حضرت ابُوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته ئې ورکړل، هغوئي هُم په مړه خيټه اوڅښل، آقا کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دريم ځل د بيزې نه شوده واخستل، پيالئ ډکه شوه او هغه غلام ته ئې ورکړه، هغه غلام هم په مړه خيټه شوده اوڅښل، دغسې درې واړو د خپل حاجت مطابق شوده اوڅښل، د دې باوُجود د بيزې تَيُونه د شودو نه ډك وو، د دې معجزے ښکاره کولو نه پس خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه غلام ته اوفرمائيل: هَلْ لَكَ فِي الْاِسْلَامِ؟ اے غلامه! آيا اسلام قبلوے؟

نوراني مخ، ښکلي حرکات و سکنات، بيا دا معجزه، د دې ټولو په ليدلو خو هغه غلام

هسې هُم عاشِق شوے وو. نو د اسلام دعوت ئې چې واوريدلو نو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لاسو مبارکو ئې فوراً اسلام قبول کړو.

سرکش جو تھے قائل ہوئے، دُشمن جو تھے مائل ہوئے | مَسحُور کن ہے کس قدر یا مصطفےٰ لہجہ ترا

سرکشه هُم قائل شو، دُښمنان هُم مائل شو | خومره ښکلي ده لهجه ستاسو يا رسولَ الله

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ولې چې د مکّے کافرانو په مومِنانو باندې ظلمونه کول، په دې وجه خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه عظيم عاشِقِ رسول ته فِي الحال د اِيمان پټ ساتلو حکم اوکړو. هغه غلام د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حکم لَبَّيْك اووئيلو او بيرته لاړو.

خوش نصيبه غلام کوم چې د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامئ کښې راغلو او د غلامانو د سردارئ تاج ورته نصيب شو، چې کله دا د خپل دُنياوي مالِك کور ته اورسيدلو نو يوه عجيبه خبره اوليدے شوه، چيلئ خو مخکښې هم څريدلې خو نن دې چيلو د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخ مبارك زيارت کړے وو، نن دې چيلو ته د مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خدمت شرف نصيب شوے وو، په دې وجه نن چيلو شوده د مخکښې نه څو چنده زيات اوکړل. مالك او د کور خلقو چې کله شوده ډير زيات اوليدل نو غلام ته ئې اووئيل: اے غلامه! نن خو دِ چيلئ ډير ښه ځائے کښې څرولي دي، بيا هم هلته ځه، او هلته ئې څروه.

عاشِق له نور څه پکار وي، د محبوب ديدار. هغه غلام کوم چې د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوراني مخ زيارت کړے وو، د هغه زړه خو به د مخکښې نه په دې ارمان وو چې د ديدارِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کولو مې بيا څه بهَانه جوړه شي. **سُبْحٰنَ الله!** د خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معجزے ورله بهَانه هم جوړه کړه.

چې د خپل ”مالِك“ نه ئې دا خبره اوریدلې وي نو هغه عظیم عاشِق به څومره خوشحاله شوے وي، د سحر کیدلو انتظار به ئې شروع کړے وي، هغه به سوچ کولو چې کله به سحر کیږي، کله به زه بیا د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوراني مخ لیدلو سعادت حاصلووم، کیدے شي چې هغه خوش نصیبه عاشق ته د شپې سم خوب هُم نه وي ورغلے چې کله به صبا کیږي او زه به بیا د هغه ښکلي مخ دیدار کووم...؟

چې سحر شو نو د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ربښتینې عاشِق چیلئ روانې کړې، غار ته نزدې اورسیدلو، د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ئې شوده پیش کړل، د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوراني مخ مبارك زیارت ئې هُم کولو او د دِین خبرې ئې زده کولې، چې ماښام شو، کور ته بیرته راغلو، بیا ئې د راروان سحر انتِظار شروع کړو.

دویمه شپه هم څه داسې تیره شوه، سحر بیا [د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې] حاضر شو، درې ورځې خو ډیرې په آرام سره تیرې شوے خو عِشق او هغه هم عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څه اسانه خبره نه ده. عِشق امتحان اخلي، په عِشق کښې د عاشِق ازمیښت کیږي، د دې عظیم عاشِقِ رسول هُم اوس ازمیښت شروع شو، درې ورځو پورې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د حاضریدلو سلسله جاري وه، خو څلورمه ورځ د محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ملاقات په جدائې کښې بدله شوه، د اِیمان راوړلو په څلورمه ورځ ئې امتحان شروع شو، مُعامَله دا اوشوه چې د مکّے فرعَون ابوجَهل یوه ورځ د عبدُ الله بِن جَدعَان په کوڅه تیریدلو، هغه چې چیلئ اولیدلې نو حیران شو او وئې وئیل: ډیرې صحت مندې چیلئ دي، تَئِینه ئې هم د شودو نه ډک دي.....! عبدُ الله بِن جَدعَان اووئیل: مخکښې داسې نه وو. درې ورځې شوي دي چې د چیلو شوده زیات شوي دي.

د روايت الفاظ دي: ابوجهل چې دا خبره واوريدله نو فوراً ئې اووئيل: زه قَسَم خورم! ستا دې چيلو څرولو والا غلام ته پته ده چې مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) څرته دے؟ مطلب ئې دا وو چې داسې ناڅاپه د چيلو د شودو زياتيدلو صرف يو صورت کيدے شي، او هغه ده مُعجزه او په دې زمانه کښې مُعجزه ښودلو والا صرف مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي، نو د دې چيلو د ښربه کيدلو وجه هُم دا ده چې دا چيلۍ د مُحَمَّد مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضرې شوي دي.

اندازه اوکړئ! ابوجهل بدبخته ته څنګه پوخ يقين وو، خو بدبختي او ضِد ئې هُم اوګورئ! چې د دومره يقين لرلو باوُجود هغه بدبخته اسلام قبول نه کړو.

خير! عبدُ الله بِن جَدعَان هم کافِر وو، هغه چې د ابوجهل کافِر خبره واوريدله نو عاشِقِ رسول غلام ئې د غار خوا ته تللو نه منع کړو. غلام وو، که خبره ئې نه منلے نو څه به ئې کړي وے، که زړه ئې نه غوښتله نو هُم خبره منلو باندې مجبوره شو. او د شفيق و مهربان آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ئې جدائي شروع شوه.

د يو رښتيني عاشِقِ رسول مخې ته د هِجر او جدائې ديوال اودريدو، مخکښې به ټوله ورځ د ديدار نه مشرفه کيدلو، چې کور ته به راغلو نو شپه تيرول به ورته مشکل شو خو اميد به ئې لرلو چې صبا به بيا حاضر شم، او په ديدارِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلې سترګې يخې کړم، خو افسوس چې اوس ئې دا اُميد هم ختم شو.

**اے عاشِقانِ رسول!** اوس خو دا صرف جدائي ده، اوس خو صرف محبوب نه د لرې اوسيدلو غم دے. خو ”لا د عِشق ازميښتونه نور هم پاتې دي“ يو شاعر وئيلي دي:

یہ عشق نہیں آساں، اتنا ہی سمجھ لیجئے | اِک آگ کا دریا ہے اور ڈوب کے جانا ہے

يعني دا عشق دومره آسان نه دے، دا د اور يو درياب دے او په دې کښې غوپه وهلو باندې په دې پوريوَتل دي دي-

د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره عِشق كول اسانه خبره نه ده، په دې كښې ډير امتحانونه اخستلے كيږي، سخت ازميښتونه پكښې پيښيږي، هغه عظيم عاشِقِ رسول چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارك ئې يو نظر اوليدو او اِيمان ئې راوړو، او عاشق جوړ شو، اوس د هغه امتحان شروع شو.

يوه ورځ هغه عاشِقِ رسول حرم شريف ته لاړو، هلته يو څو كافر هُم موجود وو، خو هغه نه وو ليدلي، هغه دا ګنړله چې زه يواځې يم، هلته د كافرانو دروغژن خدايان [يعنې بُتان] پراته وو، د هغه ايماني جذبه په جوش كښې راغله او په هغه بُتانو باندې ئې لاړې تُوك كړې، او اوئې وئيل: نامراده دے هغه كس څوك چې ستاسو عبادت كوي.

هغه خو دا ګنړل چې زه يواځې يم، ځكه ئې دا كار اوكړو خو چې كافر ئې اوليدل نو زر زر د هغه ځائے نه لاړو، كافرو ټوله مُعامَله اوليدله، هغوئي وريسې شاته ورغلل او د عبدُاللّٰه بِن جَدعان كور ته اورسيدل او هغه ئې د ټولې واقعې نه خبر كړو نو هغه بدبخته كافر د خپل غلام (يعنې حقيقي عاشِقِ رسول) لاس د ابوجهل او اُمَيَّه بِن خَلف په لاس كښې وركړو او ورته ئې اُووئيل: دا ستاسو دے، يعني تاسو ته اختيار دے چې د ده سره څه كول غواړئ اوكړئ.

## (2) د ظُلم و ستم زړه درَزَوُونكي قِصَّه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! اوس د ظُلم و سِتم زړه درَزَوُونكي قِصَّه واورئ او اوګورئ چې زمونږه اسلافو په څومره څومره تكليفونه برداشت كولو دا دِين مونږ ته را رسَوَلے دے.

اَللّٰهُ اَكْبَر! ابو جَهل او اُمَيَّه بِن خَلف دواړه كافران وو او دواړه ډير غټ ظالِمَان او سركشه وو، دې دواړو د هغه عظيم عاشِقِ رسول لاس اونيولو او د مكّے مكرمې صحرا ته ئې بوتلو، او هغه عاشِقِ رسول ئې د اسلام قبلولو په جُرم كښې په لمر سره

شوي شګه [يعني په سخته تَوده شَګه] څملولو او په سينه ئې ورته کاڼړے کيښودو او ورته ئې اووئيل: اُكْفُرْ بِمُحَمَّدٍ، يعني د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رسالت انکار اوکړه.

يو طرف ته کفر دے، ظُلم دے، او بل طرف ته عِشقِ رسول دے، ابوجهل او اُمَيَّه بِن خلف که کافران او ظالِمَان وو نو په مقابَله کښې هُم ورته د ثابت قدمۍ غر ولاړ وو. ابوجهل او اُمَيَّه بِن خلف دا ګنړل چې دا عاشِقِ رسول به ظُلم و ستم برداشت نه کړي او دينِ اسلام به پريږدي خو هغوئي ته معلوم نه وو چې

غُلامانِ محمد جان دینے سے نہیں ڈرتے　|　یہ سَر کٹ جائے یارہ جائے پروا نہیں کرتے

يعني د محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان د مرګ نه نه ويريږي، په دې لاره کښې هغوئي د خپل سر کټ کيدلو پرواه نه کوي۔

هغه عظيم عاشِقِ رسول د يو ساعت د پاره هم اِيمان پريښودو ته تيار نه وو، د هغه [عاشِقِ رسُول] په ژبه صرف يوه کَلِمَه وه: رَبِّيَ الله، اللهُ اَحَد، اللهُ اَحَد زما ربّ الله دے، الله يو دے، الله يو دے.

ابوجهل او اُمَيَّه بِن خلف هغه عاشِقِ رسول ته ډير تکليفونه ورکول شروع کړل، په سخته ګرمۍ کښې به ئې په سرو شګو څملولو او په سينه به ئې ورته درون کاڼړے کيښودو، خو هغه عاشِقِ رسول داسې ثابت قدمه وو چې د دې دواړو کافرانو تکليفونو د هغه په جذبهٔ ايماني کښې هيڅ کمے رانوستلے شو، بيا هغه عاشق رسول ته ابوجهل او اُمَيَّه بِن خلف د اوسپنې جامے ور واغوستلې، په هغه سخته ګرمۍ کښې به د اوسپنې هغه جامے تودې شوے، هغه ګرمۍ به ئې بدن سيزلو تر دې چې د بدن وازګه به ئې ويلي کيدل شروع شوه، خو قربان شم! د هغه عظيم عاشِقِ رسول نه! چې د هغه په ژبه باندې صرف يوه خبره وه: رَبِّيَ الله، اللهُ اَحَد، اللهُ اَحَد زما ربّ الله دے، الله يو

دے، اللّٰه يو دے.[1]

کافرو به د هغه [عاشِقِ رسول] په غاړه کښې رسۍ واچوله او د لوفرو هلکانو په لاس کښې به ئې ورکړه، هغوئي به هغه عظيم عاشِقِ رسول د مکّے په کوڅو کښې راښکلو خو د هغه عاشِقِ رسول په ژبه به دا ټکي وو: اَللّٰهُ اَحَد، اَللّٰهُ اَحَد اللّٰه يو دے، اللّٰه يو دے.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې تکليفونو حال اوريدل او لوستل خو ډير اسان دي، خو هِمَّت هغوئي کړے دے چا چې دا تکليفونه برداشت کړي دي، آه! مونږه په آرام يُو، څوك تکليف نه را کوي، خوراك څښاك راته ميلاويږي، پکي او اے. سي راته چليږي، ګټه کوو، خوراك څښاك کوو او په آرام سره اوسيږو خو د دې باوُجود زمونږ په ژبه ذِکرُ اللّٰه نه وي، که تَسْبِيْح وئيل شروع کړو نو لږ ساعت پس په ذِکر و دُرُود وئيلو ستړي شو، په فرضو لمُونځونو کښې کوتاهي کوو، په لکونو کروړونو مسلمانان دي چې لمُونځ نه ادا کوي، او څوك چې لمُونځونه ادا کوي د هغوئي حال اوګورئ! چې د لمَانځه نه پس ورته د ذِکرُ اللّٰه کولو د پاره وخت ويستل مشکل وي.

اللّٰه! اللّٰه! ذِکر خو هغه وو، کوم چې هغه عظيم عاشِقِ رسول د مکّے مکرمے په کوڅو کښې کولو. د ډيرو ورځو پورې هغه کافرانو په هغه عاشِقِ رسول باندې ډير ظُلمونه اوکړل او هغه د هغوئي ټول ظُلمونه برداشت کړل، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غار نه بيرته تشريف راوړے وو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم خپل عاشِق په دې تکليفونو کښې اخته ليدلے وو.

آه! چې کله خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل هُغه عاشِق ليدلے وي نو د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك زړه ته به څومره درد او غم رسيدلے وي، اللّٰه! دا خو هُغه خوږ

[1] ...تاريخ مدينه دمشق، جلد:10، صفحه:436و439، خلاصةً۔

آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے چې د خپل اُمَّت سره داسې محبت کوي چې د خپلو اُمَّتيانو معمولي تکليف ليدل هم نه خوښوي. **الله** پاك په قرآنِ پاك کښې د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا صِفَت بيان کړے دے:

| | |
|---|---|
| عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ (پارہ11،سورۂ توبہ:128) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: په هغوئي باندې ستاسو په مشقت کښې پريوتل ډير ګران تيريږي . |

**اے عاشِقانِ رسول!** خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مينه کوي. چې کله خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل هغه عاشِق په مُصيبتونو کښې ګرفتار ليدلے وي نو د سترګو مبارکو نه به ئې اوښکې هُم بهيدلې وي خو ....دا د امتحان وخت وو او په امتحاب کښې صبر کولے کيږي.

آخر د هغه عاشِقِ رسول د ازميښت وخت ختم شو، هغوئي د خپل عِشق په امتحان کښې کامياب شو.داسې اوشو چې يوه ورځ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:کاش چې! په څه طريقه دا غلام څوك واخلي او آزاد ئې کړي.

د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يارِ غار حضرت ابُوبکر صِدّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې کله نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا خواهش واوريدلو نو ډير زيات قيمت ئې ادا کړو، او هغه عظيم عاشِقِ رسول ئې واخستلو او د غلامۍ نه ئې ازاد کړو او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ئې حاضر کړو. [1]

| | |
|---|---|
| ستم ہائے فَراواں کی بڑھی جب حد سے بے دردی | تو اُن کی حضرت بو بکر نے قیمت ادا کر دی |
| اُخُوَّت مذہبِ اسلام کا پتھر ہے بنیادی | غلاموں کو دِلائی ہے اسی جذبے نے آزادی |
| مسلماں ہونے والوں سے غُلامی کی مٹی ذِلّت | کہ آڑے آگئی عثماں اور بُو بکر کی ہمت |

---

1 ...اُسد الغابه، بلال بن رباح، جلد:1، صفحه:416، خلاصةً.

صَــلُّــوْا عَــلَـی الْـحَــبِـیْـب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مختصر تَعَارُف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! آيا تاسو ته معلوم دي چې هُغه عظيم عاشِقِ رسول څوك وو؟ آو جي! دا بل څوك نه وو، زمونږ د غلامانو سردار، د هر عاشِقِ د سترګو ستورے، مشهور عاشِقِ رسول، مُؤَذِّنِ رَسُول، حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وو.

| | |
|---|---|
| کیا کیا ستم نہ ڈھائے تھے تجھ پر اُمَیَّہ نے | اقرارِ حق سے پِھسلی نہ تیری زباں بلال |
| مکہ اَحَد اَحَد کی صداؤں سے گونج اٹھا | خورشیدِ انقلاب تھا تیرا بیاں بلال |
| بُوبکر نے خرید کے ایسے بڑھائے دام | دولت اگر زمیں ہے تو آسماں بلال |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مشهور صحابي دے، د هغوئي نوم مبارك: **بلال** او لقب ئې **مُؤَذِّنِ رَسُول** دے. خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته د **سَيِّدُ الْمُؤَذِّنِين** (يعنې د ټولو اذان کوونکو سردار) خطاب ورکړے وو.[(1)]

د حضرت سَيِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په باره کښې عام طور دا وئيل کيږي چې د هغوئي رنګ مبارك ډير زيات تور وو بلکه بعضې خلق چې د هغوئي مبارکه حُليه بيانوي نو مَعَاذَ اللّٰہ! يو د ويرې ډك ماحول جوړ کړي، **اللّٰہ** پاك دِ مونږ د بےادبئ نه **محفوظه** اوساتي! دا خبره صحيح نه ده بلکه حضرت سَيِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غنم رنګے وو، عُلمائے کرام د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حُليه مبارکه بيانولو کښې ليکي: **كَانَ شَدِيْدَ الْاُدمَةِ** حضرت سَيِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډير زيات غنم رنګے وو،[(2)] يعنې د غنمو دانه چې لړه

---

1 …سير اعلام النبلاء، جلد:3، صفحه:220۔

2 …معرفة الصحابه لابي نعيم، جلد:1، صفحه:333۔

تور شان والي طرف ته مائله کړئ نو چې خنګه رنګ ترينه جوړ شي، د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ رنګ مبارك داسې وو. په پاکستان هندوستان کښې عام طور خلق غنم رنګي وي.

| | |
|---|---|
| اسلام کا جمال ہے تیرے جمال سے | سیرت تری ہے دِین کی اک ترجماں بلال |

حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سابِقُ الاسلام والا دے، يعني هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اسلام په شروع کښې ايمان راوړے وو، د غلامئ نه آزادي نصيب کيدو نه واخله د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وصالِ ظاهري پورې به حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر اوسيدلو، حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مُؤَذِّنِ رَسُول هم دے، او خازنِ مصطفٰی هم دے، يعني رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مالي مُعامَلاتو د خيال ساتلو ذِمَّه واري حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته ورکړې وه، د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وصالِ ظاهري نه پس حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مُلكِ شام ته تشريف يوړلو او د آخره پورې هلته اوسيدلو، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په 20 هجرئ کښې د دُنيا نه رخصت شو. د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مزار هم په مُلكِ شام کښې دے.[1]

| | |
|---|---|
| جاہ و جلال دَو نہ ہی مال و مَنَال دَو | سوزِ بلال بَس میری جھولی میں ڈال دو |
| دُنیا کے سارے غم میرے دِل سے نکال دو | غم اپنا یا حبیب بَرائے بِلال دو |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په دِين باندې استقامت

1 ...أُسد الغابه، جلد:1، صفحه:415و416، ملتقطاً۔

اے عاشِقانِ رسول! مونږه واوريدل چې د حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اِيمان څومره مضبوط وو، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته ډير تڪليفونه اورسيدل، ظُلم و سِتم پرې اوشو، هر څه ئې برداشت کړل خو په دِين باندې ثابت قدم پاتې شو او د باطل مخې ته ئې سر ټيټ نه کړو.

کاش چې! مونږ ته هم په دينِ اسلام او اِيمان باندې ثابت قدمي را نصيب شي، کاش چې! مونږ ته د خپل اِيمان د حفاظت سوچ په حقيقي معنو کښې رانصيب شي. افسوس! په دې دور کښې خپل اِيمان بچ ساتل سخت ګران شوي دي، د علمِ دين داسې کمے دے چې د الله پناه....! ❁ څومره داسې دي چې سندرې وائي، سندرې اوري او ورته ګډيږي، حالانکه په هُغه سندرو کښې ڪُفريه اشعار هم وي او هغه خبر هُم نه وي، بس په خپله مستئ کښې مست هغه اشعار وائي، او يا ئې په ډير خوند سره اوري.

که په سندرو کښې ڪُفريه کلمات نه وي نو بيا هم سندرې او ميوزک اوريدل يا وئيل شيطاني کار دے او د دې دومره سخت عذاب دے چې څوک به ئې هُم برداشت نه کړي، د رواياتو مطابق چې څوك سندرې اوري، په ورځ د قيامت به د هغه په غوږونو کښې ويلې شوي سيکه اچولے کيږي. (1)

❁ بعضې وخت په بنده مصيبت راشي، پريشاني پرې راشي، څلمے کس ئې مړ شي، ناڅاپه پرې څه حادثه راشي نو ګيلے او شکايتونه کوي، بعضې ناپوهه خو مَعَاذَ الله ڪفريه جُملے هم وائي او د ديني معلوماتو د کمي په سبب هغه د دې نه خبر نه وي چې دا ڪفريه جمله ده بنده د دِينِ اسلام نه خارج کوي. ❁ بعضې ناپوهه د غير مسلمو طريقے اختياروي، د هغوئي په مذهبي پروګرامونو کښې شامليږي، څه دُنياوي فائدے ئې وي، لالچ ئې وي، د پيسو حِرص ئې وي او په دې چکر کښې مَعَاذَ الله! ايمان طرف

1 ...کنز العمال، جلد:15، صفحه:96، حديث:40662۔

ته ئې هڅو تَوجُّه نه وي، د اللّٰه پاك ناراضئ طرف ته ئې فکر هُم نه وي، په زړه کښې ئې د خوفِ خدا کمے وي، د عِشقِ رسول کمے وي، او دغسې هغه د غير مسلمو د صحبت په وجه د هغوئي په مذهبي پروګرامونو کښې شريك شي، او بعضې وخت خو خپل ايمان برباد کړي او د کُفر جوَړې کندې ته غوزار شي، او د خپل ايماني دولت لُوټ کيدلو ورته احساس هُم نه وي.

کاش چې! د حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په برکت مونږ ته هم د ايمان سلامتيا رانصيب شي.

مسلماں ہے عطار تیری عطا سے　|　ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی (1)

د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دې موضوع باندې يو زبردست قيمتي کتاب دے "**کُفرِیَہ کلمات کے بارے میں سُوال جواب**"- په اُردو ژبه کښې په دې موضوع باندې دومره تفصيلي کتاب په لاس راتلل ډير مشکل دي. دا کتاب د هر مسلمان ضرورت دے. صرف د 675 صفحو کتاب دے او په دې کښې د کفريه کلماتو په باره کښې داسې ښکلې ښائسته معلومات دي چې څوك ئې اولولي نو صرف هغه ته معلومه وي. د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هدِيةً دا کتاب واخلئ او که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب‌سائټ **www.dawateislami.net** نه ئې هم ډاؤن لوډ کولے شئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (3) په قرآنِ پاك کښې د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْهُ شان

---

1 ...وسائل بخشش، صفحه:105۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ډیرو امتحانونو ته تیر شو، بیا چې کله آزاد شو نو د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت مبارك کښې حاضر شو، او بیا به د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمتِ بابرکت کښې حاضر اوسیدلو، دغه شان هغه نور صحابه کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوان کومو به چې مخکښې د غلامۍ ژوند تیرولو مثلاً حضرت صُهَیب رُومي او حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللہُ عَنْہُما، دوئي به د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر اوسیدل، یوه ورځ کافرو اووئیل: اے مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو په خدمت کښې غریبانان خلق ناست وي، مونږ ته دوئي سره کښیناستلو کښې شرم راځي، که تاسو دا غریبان د خپلې خوا نه لرې کړئ نو مونږه به په تاسو اِیمان راوړو او ستاسو په خدمت کښې به حاضر اوسیږو. په دې باندې د حضرت بِلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او نورو غریبو صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان په شان کښې دا آیتِ کریمه نازِل شو، **اللّٰه** پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَطْرُدِ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ (پارہ7،سورۃالانعام:52) | مفہوم ترجمه کنزُالعِرفان: او هغه خلق مه لرې کوه کوم چې سحر ماښام خپل رب یادوي د هغه د رضا غوښتلو د پاره. |

په دې آیتِ کریمه کښې **اللّٰه** پاك خپل محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حکم اوکړو چې: اے محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو دا صحابه هیڅ کله د خپل صحبت نه مه لرې کوئ، دا خو هغه نیك او پرهیزګاره خلق دي چې سحر او ماښام د **اللّٰه** پاك عبادت کوي او عبادت هم څنګه...؟ د ښودنې نه، د ریاکارۍ نه، د دُنیاوي لالچ عبادت نه بلکه داسې عبادت کوي چې صرف او صرف دا غواړي چې اللّٰه راضي شي.

جب تک بِکے نہ تھے، کوئی پوچھتا نہ تھا　　آپ نے خرید کر ہمیں انمول کردیا

اللّٰهُ اَكْبَر! د دې صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان په شان کښې **الله** پاك فرمائي:

وَ اِذَا جَآءَكَ الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلۡ سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ ۙ (پاره7،سورةالانعام:54)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: او چې کله ستاسو په بارګاه کښې هغه خلق حاضر شي کوم چې زمونږ په آيتونو باندې اِيمان راوړي نو هغوئي ته اوفرمايه: "په تاسو دِ سلام وي"، ستاسو ربّ په خپل ذِمَّهٔ کرم باندې رحمت لازم کړے دے.

يعنې اے محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا پاك خلق کومو چې زمونږ په آيتونو اِيمان راوړے دے، کله چې ستاسو په خدمت کښې حاضر وي نو تاسو د دوئي عِزَّت افزائي کوئ، د دوئي نه په سلام کښې وړاندې کيږئ او دوئي ته دا زيرے واوروئ چې **الله** پاك په خپل ذِمَّهٔ کرم باندې رحمت لازم کړے دے.[1]

حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ فرمائي: چې کله دا آيتِ کريمه نازِل شو نو خوږ آقا، مَکي مَدَني مُصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږه را اوبللو، مونږه حاضر شو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آيتِ کريمه تلاوت کولو، د هغه ورځې نه به خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږه دومره نِزدې کښينولو چې زمونږه زنګونان به د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زنګونانو سره لګيدل.

دامَنِ مصطفےٰ سے جو لپٹا یگانہ ہو گیا | جس کے حُضُور ہو گئے، اس کا زمانہ ہو گیا

اے عاشِقانِ رسول! حضرت بلال، حضرت صُهَيب، حضرت خَبَّاب او د داسې نورو صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان فضيلتونه صرف دا نه دي بلکه د دې نه وړاندې بيان هم جاري دے، اوس لږ په غور د روايت باقي حِصَّه هم واورئ او اوګورئ! په مُعاشره

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ: 7، سورۂ انعام، زیرِ آیت: 54، جلد: 3، صفحہ: 118، خلاصۃً۔

کښې د غلام په نُوم ياديدونکو دغه صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان چې کله په خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِيمان راوړو نو اسلام هغوئي ته ځومره عِزَّت ورکړو، حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: مونږ به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې ځومره وخت اراده وه، تشريف فرما به وو، بيا به چې څه ضرورت پيښ شو نو مونږ به ئې ناست پريښودو او تشريف به ئې يوړلو، په دې باندې **الله** پاك دا آيت کريمه نازِل کړو:

وَ اصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ

(پاره 15، سورة الكهف:28)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او خپل ځان د هغه خلقو سره مانُوس لره، چې سحر ماښام خپل ربّ يادوي د هغه د رضا غوښتلو د پاره.

حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: د دې آيتِ کريمه نازليدلو نه پس حالت دا اوشو چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زمونږ سره تشريف فرما اوسيدلو، که مونږ به ښځپله اجازت اوغوښتلو نو اجازت به ئې راکړو، ګني حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به داسې تشريف نه وړلو چې ګني مونږ به ئې هلته ناست پريښودې وے.(1)

جب تک بِکے نہ تھے، کوئی پوچھتا نہ تھا | آپ نے خرید کر ہمیں انمول کر دیا

سُبْحٰنَ الله! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! دا شان دے د هغه پاکو خلقو، کوم چې مخکښې غلامان وو او کافرانو به قِسما قِسم تکليفونه ورکول، په دُنيا کښې د هغوئي هيڅ ځوك نه وو، خو چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځان ته نزدے کړل، د خپل صُحبت نه ئې فيض ياب کړل نو د هغوئي د شان قصيدے په قرآنِ کريم کښې نازلې شوے او

---

1 ...تاريخ مدينه دمشق، جلد:10، صفحه:447تا448۔

دا تر قيامته پورې د راتلونکو مسلمانانو سرداران قرار شو.

بے دام ہی بِک جایئے بازارِ نبی میں | اس شان کے سودے میں خسارے نہیں ہوتے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (4) آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم په جَنَّت کښې د حضرت بلال آواز واوريدو

د معراج په احاديثو کښې دي چې: زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د معراج په شپه چې کله زه جنَّت ته داخل شوم نو ما د ځان نه مخکښې مخکښې يو آواز واوريدلو، ما ته اووئيل شو چې: دا بلال دے.(1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ څه ښکلے شان دے. هغوئي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ اِيمان راوړو، ډير تکليفونه ئې تير کړل، کافرو پرې ډير ظُلمونه اوکړل خو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په اِيمان ثابت قدم پاتې شو او دينِ اسلام نه ئې مخ وانه ړولو نو اوګورئ چې **اللّٰه** پاک څنګه څنګه انعامونه ورکړل.

## 《5》 بِلال کله دروغ نه وائي

يوه ورځ حُضُورِ اکرم، نبيِ مُکرّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت بِلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کور ته تشريف راوړلو.

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا هُم څنګه عِزَّت افزائي ده چې د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، د چا په بارګاه کښې چې فرښتے حاضري ورکوي هغه آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله د حضرت بِلالِ حَبشي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ کور ته تشريف راوړلو. تپوس ئې اوکړو: بِلال په کور کښې شته؟ د

---

1 ...مُسْنَدِ امام احمد، جلد:2، صفحه:144، حديث:2366۔

حضرت بِلالِ حبشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زوجه محترمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عرض اوکړو: هغه په کور کښې نشته.

بيا ئې زوجه محترمه عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بلال چې کله په کور کښې وي نو بس د هغه په ژبه هُم دا خبره وي چې: : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ يعني نن رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا اُوفرمائيل، نن رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا اُوفرمائيل.

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د حضرت بِلالِ حَبشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عِشقِ رَسُول اوګورئ، چې تر څو به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو نو د ديدارِ مُصطَفٰی شربت به ئې څښلو او چې کله به کور ته راغلو نو هُم صرف د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې به ئې کولې.

خير چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره واريدله [چې هغوئي په کور کښې نشته] نو اُوئې فرمائيل: مَا حَدَّثَكِ عَنِّيْ بِلَالٌ فَقَدْ صَدَقَ بِلَال لَا يَكْذِبُ [يعني] بِلال چې زما له طرفه کوم حديث هُم بيانوي، هغه رښتيا دے بِلال کله دروغ نه وائي. (1)

**اے عاشقانِ رَسُول!** کمال خبره ده چې زمونږه رښتينے آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله د حضرت بِلالِ حبشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رښتيني کيدلو ګواهي ورکوي، دا دے د حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان. کاش چې د حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خاطر مونږ ته هُم هميشه د رښتيا وئيلو توفيق رانصيب شي، کاش چې د دروغو نه زمونږ په زړونو کښې داسې نفرت پيدا شي چې د مرګ د ساعته پورې کله هُم دروغ اُونه وائيو، دروغ وئيل ګناه ده، دروغ جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے، دروغ د مسلمانانو کار نه دے بلکه د منافقانو کار دے. افسوس چې په دې معاشره کښې داسې نادان خلق هُم شته چې وائي وروره نن صبا د رښتياؤ زمانه نه ده، د دروغو نه بغير هډو کار نه کيږي.

---

1 . . . تاريخ مدينه دمشق، جلد: 10، صفحه: 463.

نو د دې نادانو خلقو دا دعوىٰ بالکل غلطه ده، راځئ چې په دې باره کښې هُم د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د سِيرت نه رهنمائي واخلو.

## ﴿6﴾ د رښتيا وينا په وجه ستا کار اوشو

د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ يو ورور وو، بعضې کتابونو کښې ئې د هغوئي نوم خالِد ليکلے دے. د هغه نکاح کول وو، حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هغه ځان سره روان کړو او يوے قبيلے ته ورغلل.

نن صبا خو چې خلق د يو بل سره خپلوي کوي نو څه حال وي؟ د دروغو نه کار اخلي جينئ والا د جينئ د دروغو صفتونه کوي او هلک والا د هلک د دروغو صفتونه کوي، بيا چې کله خپلوي اوکړي او د واده نه پس هغه دروغ رابښکاره شي نو جګړے شروع شي تر دې چې خبره طلاق ته اورسي. د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ښکلے او پاکيزه انداز اوګورئ، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې د خپلوئ کولو د پاره د جينئ والا کور ته ورغلو نو اوئې فرمائيل: تاسو مونږ پيژنئ، دا زما ورور دے، مونږه مخکښې غُلامان وو، **اللّٰه** پاک آزادي راعطا کړه، مونږه په ګُمراهئ کښې وو، **اللّٰه** پاک د خپل آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ذريعه هدايت راکړو، مونږه غريبان وو، **اللّٰه** پاک مالداره کړو، که تاسو خپله لور راکول خوښوئ نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! او که راکول نه خوښوئ نو بيا هُم هيڅ باک نشته.

د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پيشکش ئې چې واوريدلو نو د جينئ والؤ فوراً خپلوي قبوله کړه. بيا چې کله حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بيرته روان شولو نو په لاره کښې ورته ورور اُووئيل: اے وروره! تاسو به زمونږ د نيکئ ذِکر کړے وے، په خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې زمونږ د قربانيدلو ذکر به مو کړے وے، تاسو ورته زمونږ د ماضي حالات ولې بيان کړل؟

حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اُوفرمائيل: ما ربنتيا اووئيل او د هُم دې ربنتيا وينا په وجه ستا خپلوي اوشوه. (1)

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې ربنتيا وئيلو سره کارونه ورانيږي نه بلکه سميږي او دروغو وئيلو سره کارونه سميږي نه بلکه ورانيږي. **الله** پاک دِ مونږ ته هميشه د ربنتيا وئيلو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِیِّ الۡاَمِين صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿7﴾ په ورځ د قيامت د بِلال رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ شان

يوه ورځ زمونږه خوږ آقا، مکِّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام ذِکر فرمائيلو، چې په ورځ د قيامت به د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام شان څه وي، دا موضوع وه، په دې سلسله کښې په غيبو خبردار نبي، مکِّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: حضرت صالِح عَلَيۡهِ السَّلَام به په ورځ د قيامت په خپل اُوښه باندې سور وي، زه به په بُراق باندې سور راشم، بيا خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ته اوکتل او اُوئې فرمائيل: د بلال به دا شان وي چې په جَنَّتي اُوښه به سور وي او په اذان کولو کولو کښې به محشر ته راروان وي، د بِلال د اذان آواز به ټول اوري، هغه وخت به انبائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام هُم بلال ته ګوري، چې کله بلال اذان پوره کړي نو هغه ته به جَنَّتي لِباس ور واغوستلے شي او د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام او شُهَداء نه پس به بلال وړومبے کس وي چې جَنَّتي لباس به ور ورکړے شي. (2)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واريدل چې د حضرت بِلالِ حبشي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ څومره اوچت شان دے او دا دے د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په دِين باندې د استقامت انعام.

---

1...تذکرہ حمدونیه، باب: 8صِدق و کِذب کا بیان، جلد: 3، صفحه: 78.
2...تاریخ مدینه دمشق، جلد: 10، صفحه: 459تا460.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د مُـؤَذِّن رسول حضرتِ سَیِّدُنا بلا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د شان او عَظَمت بيان واوريدلو، راځئ چې په آخره کښې د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اذان متعلق يو ايمان تازه کوونکے حکايت واورو:

## ﴾8﴿ د حضرت بِلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يو ايمان افروز اذان

چې کله د **اللّٰه** پاک آخري نبي، رَسُولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنيا نه ظاهري پرده اوفرمائيله نو په صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان باندې ګويا قيامت راغے، صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د غمه نه بے حاله وو، حضرتِ سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هُم د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وصال باندې ډير زيات غمګين شولو.

ځکه چې حضرت بِلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خو د حضور نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُـؤَذِّن وو، د مُـؤَذِّن او اِمام په خپل مينځ کښې يو جُدا قِسم تَعَلُّق وي، حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به د رَسُولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې اوسيدلو، چې کله محبوب آقا، مکّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنيا نه ظاهري پرده اُوفرمائيله نو حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ له ژوند تيرول مشکل شو، په کومو کوڅو کښې به چې د مدينے جانان، سروَرِ کون و مکان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګرځيدلو، په هغه کوڅو کښې به چې اوس حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ګرځيدلو نو د خفګان نه به ئي بد حال وو، په هغه کوڅو کښې به چې خوږ مدني جانان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُسکے شولو نو هر طرف ته به د نُور رنړاګاني خورے شوې، اوس په هغه کوڅو کښې حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خپل خوږ آقا و مولا سيّدُ الاَنبياء صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ياد کښې بے قراره اوسيدلو.

بس نور د مدينے مُنَوَّرے په کوڅو کښې د حضرت بلال د پاره ژوند تيرول سخت مشکل شو، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شام ته تشريف يوړلو، خو آه! آقا کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو دلته هُم نشته، د محبوب ديدار خو دلته هُم نشته، د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ياد خو دلته هُم بے

قراره کړے دے يعني په شام کښې هُم د حضرت بِلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زړه د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هِجر و فِراق کښې بے قراره وو. **اللّٰه**! **اللّٰه**! شپې او ورځې به ئې څنګه تيريدلې...؟

مخکښې به چې د شپې اُوده کيدلو نو په زړه کښې به ئې يوه اسره يو اُمِّيد وو چې سحر به پاځم، مسجدِ نبوي ته به حاضريږم، اذان به کووم، بيا به خوږ مکِّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړي، د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ديدار به خپلې سترګې يخَووم، خو اوس خو هغه اُمِّيد هُم ختم شو، مخکښې به ئې چې کله زړه اُوغوښتله نو خدمتِ اَقدَس کښې به حاضر شو او د ښکلې ښکلي آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دِيدارِ مبارک به ئې خپلې سترګې او زړه يخ کړل، آه! اوس چرته لاړ شي، اوس خپل محبوب کوم ځائے کښې تلاش کړي.

حضرتِ سَيِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په فِراقِ رَسُول کښې دغسې شپې او ورځې تيرولې، بس اوس صرف يو صورت باقي وو چې غمخوار مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کم از کم په خوب کښې تشريف راوړي او دغسې خپل ديدار راعطا کړي....

بس بيا يوه شپه د حضرت بلال رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ قسمت رابيدار شو او د سترګو تور د زړه تکور د بے قراره زړونو قرار خوږ نبي سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل عاشق ته د خپل ديدار کولو د پاره د هغه په خوب کښې تشريف راوړلو-

خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته په خوب کښې اِرشاد اُوفرمائيلو: **مَا هٰذِهِ الْجَفْوَةُ يَا بِلَالُ**! اے بلال....! دا څه بے وفائي ده؟ تا زمونږ ديدار د پاره بالکل راتلل پريښودل....؟

**اللّٰه**! **اللّٰه**! حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان واوريدلو، سترګې ئې اوغړيدلې، سوَرلئ ئې تياره کړه او د مدينے په سفر روان شولو.

**اَللهُ اَکْبَر**! يو عاشقِ رَسُول د مدينے په سفر روان دے، مکِّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله بللے دے، د حضرت بلال د زړه کيفيات به څنګه وو؟ دا خو مونږ نه شو

معلومولے، البته په زړه کښې د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هغه وخت د کیفیاتو تصور قائمولو کوشش اوکړئ! حضرت بلال به څه سوچ کولو؟ چې آها! د خیره ډیر زر به د مدینے کوڅو ته اورسم، ډیر زر به مسجدِ نبوي شریف اُووِینم، د مدینے مُنَوَّرے ښکلې نظارے به وي، د غریبانو مددګار آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله طلب کړے یم، د دیدار شرف به هم راعطا کوي.

**الله! الله!** په سفر کولو کولو به آخر حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته د لرې لرې نه د مدینے ونې او دیوالونه ښکاره شوي وي، دا هغه ساعت دے چې خوږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د سفر نه واپسئ کښې خپله سوَرلي تیزه کړه، هغه وخت به د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کیفیات څنګه وو؟ په مدینهٔ مُنَوَّره باندې وریدونکے نُور او د هغه ځائے ځلیدونکے منظر ئې چې لیدلے وي نو حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به بے تابه شوے وو، په زړه کښې به ئې د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار شوق و طلب نور زیات شوے وو، زړه به ئې بے قراره شوے وو، د زړه درَزیدلو رفتار به ئې تیز شوے وو.

**اَللّٰهُ اَکْبَر**! حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مدینے ته را اورسیدلو! خو آه! د مدینے جانان، خوږ نبي سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو په جُمات کښې نشته، د ازواجِ مُطَهَّراتو په حُجرو کښې هُم نشته، آه! غُلام ئې د شام نه رابللے دے او پخپله په پرده کښې تشریف فرما دے.

د مدینے خلقو ته د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د راتګ خبر شوے وو، ډیر صحابهٔ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان مُـؤَذِّنِ رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ملاقات د پاره راغلل، د سلام دعا نه پس ټولو اُووئیل چې، بِلاله! هغه اذان کوم به دِ چې زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اورولو، نن بیا یو ځل هغه اذان مونږ ته واوروَه. حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ معذرت اوکړو چې اوس به هغه اذان اونکړے شم، ځکه چې مخکښې به مې اذان کولو او **اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَسُوْلُ الله** به مې وئیلو نو مخامخ به مې د وَالضُّحٰی والا مخ مبارک دیدار کولو، نن چې اذان کووم نو دیدار نه به محرومه یم دا به زما زړه برداشت نه کړے شي. آه! نن ما ته د دې فرمائش نه معافي

راکړئ! صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان ډیره زور اولګوو خو حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ انکار اوکړو، په دې کښې د خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واړه واړه نمسي اِمام حسن او اِمام حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْهُمَا تشریف راوړلو، حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دواړه خپلې سینے ته راجوخت کړل، مینه ئې ورسره اوکړه، بیا دواړو شهزادګانو رَضِیَ اللہُ عَنْهُمَا اُووئیل: بلاله! زمونږ نیکه مبارک صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به دِ چې کوم اذان اورَوَلو، نن هغه اذان مونږ ته هُم واوروئ! حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دغه شهزادګانو خبره منلو نه چرته انکار کولے شو- حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د شهزادګانو خبرې ته غاړه کیښودله او د اذان کولو ځائے ته ئې تشریف راوړو، لاسونه ئې په غوږونو کیښودل او په غمګین انداز کښې ئې اذان شروع کړو: اَللّٰهُ اَکْبَر، اَللّٰهُ اَکْبَر.

د اذان د دې غمګین آواز انګازے په مدینۀ مُنَوَّره کښې خورے شوې، د مدینے په خلقو یو لړزان ګډ شو، ژړاګانې شوې او خلقو په زوره زوره چغې کړې، د خلقو زړونه د سرکارِ عالي وَقار مکّي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په یاد کښې بے تابه شُو، وړو وړو ماشومانو د خپلو میندو [موریانو] نه غیږې چاپیره کړې چې مورې! حضرت بلال خو راغلو، زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کله تشریف راوړي؟

حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اذان کولو او په مدینۀ مُنَوَّره کښې د قیامت منظر جوړ وو، چې کله حضرتِ سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اولوستل: اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله. نو مِنبر ته ئې پورته اوکتل، خو منبر خالي وو، حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د غم نه بے قراره شو، زړه ئې بے قابو شو او د ډیره غمه په زمکه راپریوتلو.(1)

تمهارے ہجر میں کیوں زندگی نہ مشکل ہو | تم ہی جگر ہو، تم ہی جان ہو، تم ہی دِل ہو

اے عاشقانِ رَسُول! دا د عشقِ رَسُول کیفیات دي، **الله** پاک دِ مونږ ته هُم د حضرتِ

---

1... سیر اعلام النبلاء، جلد:3، صفحه:222، زُلف زنجیر، صفحه:74تا77۔

بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د عِشقِ رَسُول نه حِصّه رانصيب کړي- خپل زړه کښې د عشقِ رَسُول زياتولو کوشش اوکړئ! په زړه کښې د عِشقِ رَسُول شمع نوره روښانه کړئ 🌸 درود شريف وائے! 🌸 په سُنَّتو عمل کوئ 🌸 د قرآنِ پاک د تلاوت عادت جوړ کړئ! 🌸 د شپې په تنهائي کښې کښينئ او د ګُنبَدِ خَضراء تَصَوُّر کوئ او د غم نه ډک نعتونه وائے 🌸 په سيرتِ مُصطَفیٰ (صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې ليکلي کتابونه لوَلئ! 🌸 د صحابۂ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سيرت لولئ! 🌸 د اوليائے کرامو سيرت بِالخصوص د هغوئي د عِشق رسول والا کيفيات مطالعه کوئ! اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ! په زړه کښې به مو د عِشقِ رَسُول شمع روښانه شي.

## په دولسو ديني کارونو کښې يو دِيني کار مَدَني مُذاکَره

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **عاشِقانِ رَسُول** په صُحبت کښې کښيناستل هُم د عِشقِ رَسُول زياتولو يوه طريقه ده، لِـهذا د **عاشِقانِ رَسُول** ديني تحريک دعوتِ اسلامي سره تړون اوکړئ، په دولسو ديني کارونو کښې ډيره ډيره حِصّه واخلئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ زړه به مو روښانه شي، مَحبَّتِ اِلٰهی او عِشقِ رَسُول به مو نصيب شي، او د دين او دُنيا بيشميره خيرونه به په لاس درشي. د دعوتِ اسلامي دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار دے مَدَني مُذاکَره-

شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د هر اتوار په شپه [يعني د خيالي او اتور مينځنئ شپه] باندې په مَدَني چينل باندې براه راست د سوالونو جوابونه ورکوي، تاسو هُم په مَدَني چينل باندې پابندئ سره د مَدَني مُذاکَرے کتلو او اوريدلو کوشش کوئ.

## د ماډرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاکستان) د اوسيدونکي يو اسلامي ورور د لِيک

خلاصه ده چې زه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راتلو نه مخکښې د فيشن په آفت کښې رفتار ووم. او د نيکو نه لرې د دُنيا په رنګينو کښې ورک اوسيدلم او دغسې مې خپل وخت بربادولو. يوه ورځ راله يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي د رمضان د آخري عشرے د اِجتِماعي اعتکاف ترغيب راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د **الله** په فضل ما ته د اِجتِماعي اِعتِکاف سعادت نصيب شو، د اِجتِماعي اِعتِکاف روحاني ماحول، د آخرت فکر ورکوونکي ښکلي بيانونه او د پيشمني او روژه ماتي مناظرو ډير خوند راکړو، او د کرم د پاسه کرم دا چې د اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني "مَدَني مُذاکرو" مې د زړه زَنګ لرې کړو او زما د زړه توره شپه ئې د عِشقِ مُصطَفیٰ په رنړا باندې روښانه کړه- ما د خپلو ګناهونو نه رښتيني توبه اوکړه او ميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بيعت شرف حاصل کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه ګيره مې پريښودله، عمامه مې په سر کړه او د سُنَّتو ډک ژوند تيرولو د پاره مې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول اختيار کړو.

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د اوقات نماز (prayer Times) ايپ تعارُف

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د **عاشِقانِ رَسُول** د ديني تحريک **دعوتِ اسلامي** آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د "اوقاتِ نماز" (***prayer Times***) [يعني د لـمانځه وختونه] جاري کړے دے ❁ د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ټوله دُنيا کښې د هر مقام وخت او د قِبلے طرف معلوميدے شي ❁ د دې نه علاوه د پينځه وخته لـمونځونو ماهانه ټائم ټيبل، اَذکار (روحاني علاج)، مَدَني چينل ريډيو، د لـمانځه په وخت کښې د موبائل سائلنټ کولو سهولت او اسلامي کيليندر موجود دے- په خپل موبائل

کښېنې دا اپيلي کيشن انسټال کړئ او نورو ته هُم ترغيب ورکړئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: **مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِیْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِیْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِیْدٍ** يعني د اُمَّت د فساد په وخت کښې چې څوک زما په سُنَّتو مضبوطۍ سره عمل کوي هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب عطا کيږي. (1)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا 		جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا 		جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## په څناورو رحم کول سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي

دوه فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ✿ تاسو د دې بے زبانه څناورو په باره کښې د **اللّٰه** پاک نه اُويَرېږئ، په دوئي باندې هله سوَرېږئ چې کله دوئي په ښه حالت کښې وي او دوئي ته په ښه طريقه خوراک ورکوئ(2). ✿ په هر رُوح والا څيز باندې د شَفقت کولو اجر ملاويږي. (3)

**اے عاشقانِ رَسُول!** په څناورو رحم کول سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي ❁ نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په څناورو هُم شَفقت کولو ❁ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د څناورو فرياد اوريدلو او د هغوئي مدد به ئې کولو ❁ يو ځل خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو اوښ په فرياد

---

1 ... زُہد کبیر، صفحہ: 118، حدیث 207۔
2 ... ابوداوٗد، کتاب: جہاد، صفحہ: 408، حدیث: 2548۔
3 ... بخاری، کتاب: مظالم وغصب صفحہ: 635، حدیث: 2466۔

باندۍ د هغه مالک ته اُوفرمائيل: ته دا اُوړے ساتې او کار ترينه زيات اخلې.[1] که چا به څناورو ته تکليف ورکولو نو خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ترينه خفه کيدلو خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څناور په خپل مينځ کښې جنګولو نه، هغوئي په تړلې وهلو نه، او د هغوئي مُثله کولو (يعني مخ ورانولو) نه منع فرمائيله.[2]

**اللّٰه** پاک دِ مونږ ته هُم په سُنَّتِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د عمل کولو او په څناورو باندې د رحم کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب "سُنّتیں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دوه رسالے "**101 مدنی پھول**" او "**163 مدني ګلونه**" هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

---

1... ابوداؤد، كتاب: جهاد، صفحه: 408، حديث: 2549 خلاصةً۔
2... سیرت رسول عربی، صفحه: 332 تا 335 ملتقطاً۔

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1...الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵